لیکونکی : پرفیسور میخایل چوسودوفسکی.

منبع اود خپرید نیټه: انفارمیشن کلیرنګ هوس«۲۰۱۴-۶-۱۴) .

ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .

----------------------------------------------------

# دعراق ویجاړنه اوسیاسیی دړی وړی کیدل د اسلامی خلافت درامینځته کیدو په لوردامریکی دمتحده ایالاتو په مالی مرستی سره

The Destruction and political fragmentation of Iraq toward the Creation of a US sponsored Islamist Caliphate

غربی رسنیو په همغاړی غږ اوپه ګډه سره په عراق کی دغه روا نه شخړی د یو «داخلی جنګ» په صفت سره توضیح کوی اوهغه داچی دعراق وشام داسلامی دولت مخا لفت د المالکی ددولت دنظامی قوتونو سره دی همدارنګه دغه دولت ته دختیځی مدیترانه«عراق الشام »اویا د«عراق اوسوریه» داسلامی دولت نوم هم ورکړشوی دی اوددی مناقشی اوشخړی اصلی دلیل ته په اشاری سره داسی توضیح کیږی چی دا یو «فرقه ای» جنګ دی چی دسنی افراطی ډلو ټپلو بی له دی چی« ددی مختلفو جناحو با ددی فرقو تر شا اصلنی عامل یا ساتونکی ته پام واړول شی » لوی خطر دلته دی چی که په ډیر دقت سره ورته پام واړول شی په صحنه کی اغلباً دامریکی د متحده ایالاتو داطلاعاتی قوتونو لاس ترسترګو کیږی .

دځنواسنادو اومدارکو څخه داسی راڅرګندیږی چی دالقاعدی پوری تړلی اشخاص اوډلی ټپلی په یو لړ متعددو شخړو اواختلافاتو کی دامریکی دمتحده ایالاتو اودناتو پواسطه سره په افغانستان کی دشوروی اتحاددجګړی له همغه ډیر سخت اوډیر شدید پړاو څخه راهیسی په دنده ګمارل شوی دي چی با ید دامریکی دګټو دلاسته راوړلو دپاره وجنګیږی .یا په بل عبارت دامریکی دمتحده ایالاتو اودهغه سره په ایتلاف کی «ناتو» په ګډه سره دالقاعدی پوری تړلی اشخا ص اوډلی د خپل اهدافو د ترلاسه کولو دپاره دمختلفو شخړو د بتی اود مجمردګرم ساتلو اود خصومت ددوام دپاره پکار اچولی یا استخدام کړی دی ،لکه دالنصر تروریستی جبهه ، دعراق – سوریی اسلامی دولت (ISIS) غړی او تړلی افراد دخپل پلی (پیاده نظام) سرتیرو په بڼه په کار اچولی کوم چی هغو ته تریننګ ورکوی اوتر خپل مستقیماً نظارت اوکنترول لاندی سا تی .

دبلی خوا څخه دالقاعدی پوری تړلی دعراق اسلامی دولت (ISIS) د اپریل میاشت کال «۲۰۱۳» په عراق کی له سره دمختلفو نومونو په نوم سره سر را اوچت کړ اوپه لنډ دول اوعام شکل سره دعراق اوشام اسلامی دولت ، همدارنګه په عراق اوسوریه کی دتروریستی ګروپ جوړید نه چی دامریکی د متحده ایالاتو د مخکینی اجندا داصلی اوځانګړی محتویاتو په نظر کی نیولو سره مینځ ته راغی هغه مخفی ډلی وه کوم چی ،دجیوپولیتیکی فعالیتونو په وړاندی باید له خپل ځانه عکس العمل وښیی، اوپه عین زمان کی دسوریی د نظامی تکړه قوتونو کوم چی نوموړی اردو د سوریی په مینځ کی دامریکی تر حمایی لاندی شورشیا نو سره جنګیړی خپل پام هغی خواته هم واړوی یعنی هغه شورشی ډلی کوم چی دسوریی دآزاد نظامی قوتونو اود مختلفو تروریستی ډلو په مقابل کی دما تی سره مخامخ شو.

پریکړه دواشنګټن پواسطه سره ونیول شو چی دغه دخپلی خوښی مخفی تروریستی ډلی ټپلی په سوریه اوپه عراق کی خپل تروریستی فعالیتونه دامریکی د متحده ایالاتو دمالی اولوژستکی مرستو سره ترسره کړی. دعراق اودسوری داسلامی دولت دسونی خلافت پروژه اوپه عین زمان کی دامریکی دمتحده ایالاتو داوږدی مودی داجندا سره سم یا دامریکی دمتحده ایالاتو دپریکړی پر اساس دواړه هیوادونه با ید وتوګول شی اوپه دری جدا برخویعنی دشیعه نشین ، سونی نشین اود کردنشین په هیوادونو سره تجزیه کړ شی .

په عین وخت کی د تعجب ځای په دی کی دی چی دا مریکی د متحده ایالاتو لاس پوڅی او لاس نا ستی دبغداد چوپړ صفت رژیم له امریکی څخه نظامی تجهیزات په شمول د (F16) الوتکی د لکهد مارتین (L0ckheed Martin د امریکی د نظامی تجهزاتو پیرودونکی اوچمتو کونکی) له شرکت څخه په نقدو پیسو پیری یا رانیسي .

بله مهم مطلب داچي دعراق شام داسلامی دولت(داعیش= دولت اسلامی عراق شام ) غړی اودهغه پوری تړلی ډلی ټپلی اوجنګیالی کوم چی دعراق ددولت دنظامی قوتونو سره جنګیړی دغرب داطلاعاتی اودجاسوسی نهادونواوقوتونو پواسطه سره تر ساتنی لاندی نیول کیږی اودهغو سره هراړخیز مرستی تر سره کوی ، اوددی مرستی څخه هدف دادي چی دعراق په دننه کی داخلی جنګ ته لمن ووهی یا د داخلی جنګ بنه مهندسی وکړي ، اود یادونی بل مهم مطلب دادی چی دغه قوتونه یعنی دعراق ددولت مخالفین اوشورشیان دامریکی دمتحده ایالاتو اودناتو پواسطه سره په غیر مستقیم بڼی سره نظارت اوکنترول کیږی .

دامریکی اودناتو له طرفه هغه سناریو چی مخکی پلان شوی وه هغه داچي دعراق په شخړه کی ښکیل دواړه خواووی بایدپه مخکی تللی اومدرن سلاح اوجنګی تحهیزاتو سره سمبال شی او هغو ته میدان ورکړ شی چی پخپل مینځ کی سره وجګیږی.

دامریکی متحده ایالات او نا تو دواړه سره تعهد کړی چی دعراق – شام د اسلامی دولت پوری تړلی جنګیالی ورورزی ، استخدام یی کړی اودهغو دمړو دتجهیز اوتکفین اومالی چاری لګښتونه پرغاړه واخلی ، دعراق - شام د اسلامی دولت عملیا تونه ، یا کړنی اوفعالیتونه دغیرمستقیم لاری څخه د غربی استخباراتی ځواکونه او قوتونو پواسطه سره سمبال کیږي ، غربی ځانګړی استخباراتی قوتونو او جنګی پیمانکاران چوپړ شبهه نظامیان دعراق –شام داسلامی دولت په لیکو کی سره مدغم یا یوځای کوی اوخپل اړیکی یی دسوریی دشورشیا نوسره دراپورونو په ورکړی او راکړی سره تامینوی .

دامریکی متحده ایالاتو اوناتودعراق– شام اسلامی دولت سره خپل مرستی اوکمکونه دامریکی درابط اوتړلی متحد ینودچینل د لاری پواسطه سره ترسره کوی کوم چی دامریکی دغه سرپا قرص متحد ین عبارت له سعودی عرب اوقطر څخه دی کوم چی همدغه دوه هیوادونه دعراق شام داسلامی دولت غړو اوډلو ټپلو ته پیسی او سلاح را رسیږی .

دیاده باید ونه باسو چی دامریکی دغه متحدین لکه سعودی عرب او قطر خپل مرستی اوکومکونه په ډیر پټ اومخیفیا نه بڼی سره ترسره کوی اوداځکه چی دعراق درژیم مشرنور–المالکی پر دغه دوه هیوادونو باندی نیوکه وکړ چی هغوی د عراق شبهه نظا میا نو سره مالی ، معنوی ، مرستی کوی اوهغوی ته سلاح او نظامی تجهیزات برابوی دغه مطلب دیلی تیلګرف دخپل دجون په «۱۲» کال «۲۰۱۴» ګنه کی ځپورکړ.اما نورالماکی ونتوانید چی دغه خپل ادعا ثابت کړی کوم چی دوحه اوریاض په دی مورد کی دواشګتن سره ډیر نژدی اړیکی لری .

دعراق دداخلی جنګ تر بیرق لاندی د پټ اوپنهانی جګړی یرغل هغه رنګ جنګ اوجګړه دی کوم چی دعراق لوی تاسیات له مینځه وړی اوددی هیواد اقتصاد ته نه جبرانونکی تاوان اوضرر رسوی اوداځکه چی دغه پنهانی جګړه یا پنهانی عملیاتونه د استخباالتو اود جاسوسی دشخړی داجندا یوه برخه دی اودا هغه رنګ مهندیسی شوی روند دی کوم چی عراق یوی سرخلاص اوبی دروازی هیواد ته بیایی.

په عین زمان کی عامه خلکو داسی باور لری چی که چیری ددی مخالفتونو مخه ونه نیول شی نوپه پا یله کی دشیعه مذهبیو اوسنی مذهبوسره لاپسی تاوتریخوالی زیاتیږی اودلویو جګړو مخه ددی دوه مذهبی پیروانو به څوک ونشی نیولی اوله احتمال څخه لیری نه ښکاری چی دی هیواد کی دوینی ویالی ونه بهیږي ؟

دامریکی دمتحده ایالاتو پواسطه سره دعراق اشغال اوس په یوه غیر متعارف شکل جګړی سره بدل شوی اما واقیعت ډیر تور اوتیاره ښکاری . دیوی تریخ طنز په بڼه تر یرغل لاندی پریوتی یو ملت کوم چی دهغه انځور اوس داسی کښل شوی غواړی چی چی خپل ځمکنی بشپړتیا بیرته ترلاسه کړی اوله دی جنجالونو څخه ځان

خلاصه کړی .

په عراق کی د داخلی جنګ اصلنی علت اوعوامل کوم چی په مینځ دسنی مذهب اوشیعه مذهب کی اوس روان دی هغه د امریکی د متحده ایالاتو اود نا تو مرستی دی کوم چی دواړه خواو سره یعنی هم دنورالمالکی رژیم او هم دسنی مذهب (داعیش) سره ترسره کوی.

دعراق دړی وړی اوټوټه کیدل د امریکی د متحده ایالاتو اودهغه د متحدینو یوله خورا ډیر مخکینی اهدافو څخه وه .

دواړه خواسره مرستی کول : ددواړو خواو څخه ملا تړ د «تروریزم پرضد جګړه اوجنګ » کی په شمول دالقاعدی دنهادونو اودشبکی په ایجاد سره بیا هم په واقیعت کی دامریکی د استخباراتو(سیاه) په عملیاتونواوجنګ جګړو کی بی د ونډی اخیستوڅخه بل مفهوم نه لری یعنی دغه جګړه په واقیعت کی داطلاعاتی اواستخباراتی دقوتونو ددندی دترسره کولو یوه برخه جوړوی اوپه عین زمان کی دهمدی اطلاعاتی قوتونودنده بلل کیږی چی دخپل لاس پوڅی دولت ساتنه وکړی کوم چی شورشیان او تروریستان غواړی چی دولت را نسکور کړی اوپه واقیعت کی ددولت نسکورول د تروریستان اصلنی هدف جوړوی اطلاعاتی قوتونه داټول پورتنی غبرګ فعالیتونه دتروریزم سره دمبارزی ترچتر لاندی به مخه وړی اویا دتروزم سره ضد مبارزه دهغو دکړنو دپاره یوه پلمه جوړوی .

دداعش یا دعراق – شام داسلامی دولت دخلافت پروژه کوم چی له هغه څخه مراد د یوسنی مذهب اسلامی دولت جوړونه دی هغه دولت دی چی دعراق ټول سنی مذهب پیروان دد ا سی دولت غوښتونکی نه دی او بیا په ځا نګړی بنی سره هغه مد رن او سکولار سنی مذهبو کوم چی ابدأ نه غواړی داسی افراطی ډول سنی مذهب دولت په عراق کی جوړ شی اما دیاده مو باید ونه باسو چی ددغسی افراطی ډول سنی مذهب دولت یا د خلافت رامینځته کول د امریکی د متحده ایالاتو د لوړپوړو مقاما تو له ډیرمخکینی پلان څخه شمیرل کیږی چی دهغوی داجندا اصلی اولمړنی ماده تشکیلوی.

دعراق شام داسلامی دولت دمخکی ټګ اودهجوم په ځواب کی دواشنګټن وړانديز هوای بمب غورځونه او هم د امریکی د اطلاعا تی یادجاسوسی سازمان دبی بیلوټو الوتکو په بمب ګذاری سره په بغداد کی ددولت څخه دملاتړپه معنی اومفهوم دی کوم چي دا پخبله دضد تروریزم ترعنوان لاندی دامریکی داسخباراتی اود اطلاعاتی قوتونو دعملیاتو ددندی یوه مهمه برخه تشکیلوی .

ضرور نه دی چی وویل شی اوهغه داچی دداعش وړاندی ټګ په عراق کی نه یواځی دا چی د عراق دولت بی ثبات کیږی بلکه دعراق د مقاومت غورځګ هم کمزوره کیږی کوم چی دا پخپله د متحده ایالاتو اود « ناتو » یوله ډیر مهم اهدافو

ځخه شمیرل کیږی .
داسلامی خلافت یا داسلامی دخلافت پلویانو او غوښتونکو سره دامریکی دمتحده ایالاتو داطلاعاتی اوجاسوسی سازمان یعنی (سی آی ای ) له طرفه هراړخیز مرستی ترسره کیږی اودغه مرستی د متحده ایالاتو د متحد و هیوادونویعنی سعودی عرب او د قطر په واسطه سره صورت مومی اوهم داسرایل له خوا دالقاعدی دشبکی سره په عراق اوسوریه ( بی دګولان دلوړو ارتفاعاتو ) کی قابل دملاحظی وړ کمکونه ترسره کیږی او دیاده باید ونه ایستل شی چی په دی لوبه کی دکوردستان تجزیه غوښتونکی که په عراق کی دی یا که په سوری کی هم دالقاعدی اود نورو افراطی تروریستی ډلو ټپلو سره کمکونه کیږی .
دتروریزم سره پراخه نړیوال جنګ اوجګړه دیو ثابت شیطا نی منطق سره (دواړه خوا یعنی دتروریستان او دولت سره دورته نظامی اوداطلاعاتی واستخباراتی فعالینو اولوبغاړو مرسته ترسره کیږی اودغه لوبغا ړی همغه پیژندل شوی متحده ایالات او ناتو دی ) مخ ته وړل کیږی
په هرصورت هغه څه چي مومخکی ذکرکړهغه دعراق د اوسنی وضع اودحالاتو توضیح اوتفسیروه.اما دبلی خوا ځخه ددواړوښکیلواړخوسره دملاتړشکل او جوړښتونه پخپله دجدایی غوښتونکوداختلافاتودتشد ید کیدواودهغه دتحقق دوخت اودزمان مهندسی کول دی کوم چی دغه شان ته مهندسی کول په یو شمیر نورو هیوادونوکی هم په نظر کی دی چی باید شورشیان او ددولتونومخالفان اوناراضیان دالقاعدی دشبکی سره ګډ یا مدغم کړ شي ( کوم چی غربی استخبارات اوداطلاعا تی قوتونه او لوبغاړی ددی پروژی تر شا ولاړ دی ) اوپه نظر کی دی چی دشورشیا نو ادغام دالقاعدی دشبکی سره په یوشمیر هیوادونو لکه (یمن ، لیبیا ، نایجیریا ، سومالیا ، مالی ، د مرکزی جنوبی افریقا جمهوریت اوپاکستان کی) کی پلي کړی اود لوبی په پا یلی کی زمینه دی ته چمتو کړ شی چی دنوموړی هیوادونو ارضی تمامیت اود ملی حاکمیت ثبات او بشپړتیا ته تاوان ورسیږی اوهغه هیوادونه بی ثبات کړی او په سر خلاصه هیواد ونه بدل کړی نرخو چی پانګوالان په آزاد بڼی سره هلته پانګوال وکړی او له هر ډول قیوداتو ځخه آزاد اووسي .
بله مهم مطلب دادی چی اوس دغه لوبغاړی دبشری کمکونو تر عنوان لاندی دمداخلی پلمی لکه دیو مثال په توګه : دغه لوبغاړی وایی چی په مالی ، نایجریا اود مرکزی افریقا په دننه کی تروررستان ځای نیولی دی اودهغه ځا یونو خلکو ته تاوان رسوی نو په دی وجهه مونږ غواړو چی هلته لاړشو او د خلکو سره خپل بشری کمکونه ترسره کړو حال داچی دغه تروریستی ډلی ټپلی پرته دامریکی دمتحده ایالاتو او ناتو ځخه هلته نشی فعالیت کولی اویا هلته نشی اوسید لی دایواځی دمداخلی دپاره پلمی جوړول دی او بس .

دموصل نیونه : دامریکی دمتحده ایالاتو اود نا تو په پنها نی اوپټ ملاتړ کوم چی دعراق اوثوریه داسلامی دولت دغوښتونکو سره شوی موصل د همدی عراق – شام داسلامی دولت دغړو تر ولکی لاندی پریوت .
داسی خبرونه تر غوږ رسیدلی چی په موصل کی یوڅه غیر معمول اوغیر مترقبه پیښی راپیښه شوی کوم چی دنظلمی اصطلاحاتو په نظر کی نیولو سره ډیرستونزمن ښکاری چی دغه پیښه په اصلی بڼی سره توضیح شي .
دعراق اودسوریی داسلامی دولت «داعش» شورشی قوتونه دجون دمیاشتی په لسمه موصل دعراق د لویو ښارونو څخه دوهم لوی ښار چی تقریباً یونیم میلیون وګړی یا جمیعت لری په زوره سره دهمدی شورشی قوتونو اود امریکی اوناتو په پنها نی ملاتړ سره ونیول شو اودهغو تر ولکی لاندی راغي . دبلی خوا څخه داوباما د اداری په قول سره دغه انکشا ف یوغیرمعمول اوغیرمترقبه واقعه تعریف شوی اوداځکه چی داوباما اداره پرپنتاګون او په خپل اطلاعا تی استخبارات یعنی (سی آی ای) باندی پوهیده یا د موضوع څخه خبر وه چی پنتاګون او «سی آی ای» نه یواځی داچی شورشیا نوته سلاح ، پیسی، او لازم لوژیستکی مواد برابروی بلکه د صحنی شا ته مخکی د مخکی د هغو سره په تفاهم کی وه چی دعراق – شام داسلامی دولت شورشیان اوجنګیالی باید د مخکینی مفهوم شوی پلان پر بنیا د موصل تر تصرف لاندی راوړی .
په هرصورت یوه مطلب چی باید پرهغه باندی یوڅه تم شوهغه دادی چی د«داعش» یاغی اوشورشی نظامی ډلی او جنګیالی دنور شورشی ډ لو لکه دالقاعدی د غړو په په نسبت اویا دهغوسره په پرتله ډیر مجهز اوبا انضباط نظامیان راپور راکړ شوی ، اما هغه څه چی باید دلته څرګند شی هغه دادی چی دموصل سقوط دداعش دنظامیانو پر قابلیت اوتوانمندی با ندی نه با ید اړین وګڼل شی بلکه د موصل د سقوط پیښه بلکل برعکس اوبل ډول دي اوهغه داچي کله موصل د «داعش» د سرتیرو تر یرغل لاندی پریوتل په موصل کی دعراق د دولت د نطا می قوتونوشمیر (۳۰۰۰۰) اود دا«عش» دمهاجمینو شمیر (۱۰۰۰) نفرو ته رسیده مګر اصلی مطلب دلته دادی چی دعراق اردو یا پوځ پریکړه کړی وه چی په دی شخړه کی مداخله ونکړی نو د ډ له ایزو رسنیو د راپوروڼو دتوضیحا تو په نظر کی نیولو سره بی له شواهد و داچی دعراق پوځ پریکړه کړی چی په دی روان شخړه کی لاس نه وهی یا مداخله نه کوی داپخپله شورشیانو ته لار پرانیستل اودجګړی له میدان څخه تیښته دی اویا پخپله یو ډله ایز ناکامی اود دندی نه اجراکول اودشورشیانوسره ښکار مرستی کول دی اوبس .
دعراق یو رسمی نظامی افسر دګاردین سره په یو مطبوعاتی خبر کی وویل :
دعراق پوځیان یا سرتیری په موصل کی له دوه جزوتامونو یا فرقوڅخه چی دهغوی

شمیر (۳۰۰۰۰) تنو ته رسیده په ډیر ساده ګی سره شا ګرځ شو او د «داعش» د(۸۰۰) داړه ما ر اود یرغلګرو له مخه ګوښه شو او هغو ته لاره خلاص اوآزاد پریښودل چی موصل تر خپل ولکی لاندی راوړی . نو په دی بنیاد سره د«داعش» سرتیری یا مهاجمین دچهار شنبی په ورځ په آزادا نه بڼی سره د موصل په کوڅو کی پرسه وهل یا په ګشت او ګذ ر کی شول چي داپخپله په ډیر آسانی اوپه ښکاره توګه سره دخلکو دحیرانتیا موجب وګرځید کوم چی د موصل لوی ښار ددری ورځو په تیت وپرک (ځای ځاي ) ډزو اوجنګ سره د «داعیش» دجنګیالیوپه لاس کی ولویږی ( ګاردیین دجون دمیاشتی «۱۲» کال «۲۰۱۴» اضافی تاکیدات ).

دراپورونو اودګذارشاتو له متن او ځرګندونو څخه داسی په ډاګه کیږی چی دعراق دپوځ قوماندانان دسنی مذهب «داعش» دشورشیانو سره خواخوږی همدردی لرل :

لکه هغسی چی د«ایربیل » کورد نشین ښا ر څخه فراریا نو اویا هغو چی دتیښتی په حال کی وه داسی ځرګندونه کول : مونږ پر خپل نظا میا نو اوافسرا نو با ندی په دی لحاظ نیوکی کوو کوم چی هغوی په ډ یره بزدلی وکړل اوزمونږدعراقیانو سره خیا نت وکړ چی دعراق څخه دفاع ونکړ اوزیا ته یی کړل چی په موصل کی داردو نظا می جنرالان سنی مذهب «داعش» شورشیا نو ته د موصل ښار لاس په لاس تسلیم کړل هغو چی دهغو سره سکتاریستی او تاریخی اړیکی له پخوا څخه لرل .(ډیلی دیلګراف دجون دمیاشتی «۱۳» کال «۲۰۱۴» ).

هغه مهم شی چی با ید پرهغه با ندی وپوهیږو هغه دادي : چی د ښځری دواړه خوا یعنی دعراق ددولت منظم قوتونه اود«داعش» یاغی اوشورشی نظامیان دواړه دامریکی دمتحده ایالاتو اود ناتو په واسطه سره ملاتړ اوحمایت کیږی مثلاً دبیلګی په توګه : دامریکی دپوځ یوځانګړی نظامی مشاور په شمول د هغوکارپوهانو کوم چی دامریکایی د شخصی یا دخصوصی نظامی شرکت پوری تړلی دی دلته په موصل کی په منظم بڼی سره د عراق د پوځ دافسرانو سره ګډ کار کوی د عراق د پوځ په روزنه مصروف دی ، اود بلی خوا څخه بیاهم دامریکی د متحده ایالاتو ډ ځانګړی قوتونو یا دامریکی دنظامی پیما نکارانو ماهران( چی د«سی آی ای» او د «پنتاګون نظامی قراردادیان اویا پیمانکاران دی ) د «داعش» سره خپل اړیکی لری یعنی دامریکی دمتحده ایالاتو اود نا تو سره په ارتباط کی دي .

تر دغه لاند نی شرایطو یا د موجوده شرایطو په نظر کی نیولو سره دا مریکی دمتحده ایالاتو داطلاعاتی «سی آی ای» دآژانس اودنورو اړینو نها دونو سره تردی حده پوری پیچلی اړیکی موجود دی چی په اسانی سره دچا سر پری نه خلاصیږی او هغه داچي دامریکی - ناتود نظامیانو اودامریکی د«سی آي ای» دسرقوما ندانی یا د فرما ند هی د مرکز تر مینځ هراړخیز ارتباطات لکه تدارکا تی ، هماهنګی او لوژیستکی معمول اوروتین اړیکی موجود دی اودبلی خوا څخه بیا هم دامریکی –

نا تو اود امریکی دنظامی مشاورینو اودخصوصی قراردادی نظامی پیمانکارانوترمینځ سره نژدی اړیکی لری چی بیا په مجموع کی دغه ټول پورتنی نهادونه خپل روابط دعراق دپوځ سره لری ، د دی ارتبا طا تو بل اړخ داسی دی چی د غربی هیوادونو جا سوسی شبکی خپل تما س د «داعش» سره د امریکی نا تو پوری د تړلی د یو خصوصی قراردادی شرکت په مینځګړی توګه سره تامینوی .

ددغه پورتنی تذکراتو په نظر کی نیولو سره داسی رامعلومیږی چی د موصل دښار سقوط په یو ډیر سنجول شوی مهند سی طرحی اوپلان سره ترسره شوی دی یعنی دموصل دښار د سقوط پلان ډیر په احتیاط اوپه پوره زیرکی سره پرته دیو ځو هوایی ډزو په کولو سره بی له دی چی عراقی پوځیان دیرغل کونکی سره وجنګیږی نیول شوی دی .

ټول په دی پوهیږی چی دعراق ټول ملی نظامی جزوتامونه یا فرقی دامریکی دمتحده ایالاتو دپوځ پواسطه سره په ډیر مخکی تللی نظامی تجهیزاتو او سلاح سره سمبا ل شوی چی که چیری عراقی نظا میا ن دغه سلاح پکار اچولی او دجنګ میدان یرغلګرو ته نه وای پریښی کولای شو چی مهاجمین په ډیره آسانی سره ځپلی او دړی وړکړای وایي یا دهغو دیرغل مخه نیولی وایي، دګذارشا تو له مخی داسی راڅرګند شوی چی په موضل کی عراقی سرتیری داسی وایی چی مونږ ته زمونږ قوماندان داسی امر وکړ چی تاسی با ید په دی جنګ او جګړه کی مداخله ونکړی داهغه څه دی چی په موصل ښارکی یوشمیر مشاهده کونکی څرګندوی او داسی وای چی چا « یوه مرمی هم » پر دی یرغلګرو ګذار نکړ.

کله چی دعراق شام داسلامی دولت (داعش) قوتونه پر موصل با ندی یرغل کوی نو هغه دولتی نظامی قوتونه کوم چی په موصل کی موجود وه د شپی له خوا خپل سنګرونو او پوستو خوشی کوی او ځنو دهغو خپل رسمی او دولتی یونیفورم له ځا نه باسی او له خپل سنګر څخه تښتي داهغه وخت دی چی د«داعش» قوتونه (یادالقاعدی یوشاخه )دموصل دښار دبانک ټول غربی برخی ترخپل ولکی لاندی راوړی اودچا په خبرو نه داچی په موصل کی دولتی نظامی قوتونه له خپلو پوستو څخه تښتی بلکه خپل رسمی یونفورم هم له ځانه باسی اوځان چیری ګوښه کوی ،اودځان سره داسی انګیری **چی دغه یرغل کونکی شبهه نظامیان ډیر قوی اوډیر جنګی اوزړه ور یاغیان دی .**

دلته یوه مهم مطلب چی باید پر هغه باندی یو څه تم شو هغه دادی : چی که چیری دامریکی د متحده ایالاتو د موظفو اود مسولو کړیو نفوذ او کنترول په موصل کی پر (۳۰۰۰۰) زرو قوی دولتی سرتیرو با ندی نه وایی اویا که هغو ته مخکی د مخکی نه وی ویلی چی تاسی په دی شخړه کی مداخله مه کوی نو ایا دا ممکن وه چی د«داعش» زرنفر شورشیان څه دپاسه پر یومیلیون خلکو لاس بری ترلاسه کړی اودموصل ښار ترخپل تسلط لاندی راوړي ؟

http://hotair.com/archives/2014/10/mosul-falls-to-al-qaeda-as-US-trained-security-forces-flee/

*پس دلته یو سوال را پیدا کیږی اوهغه داچی څوک ددی پریکړی تر شا ولاړ وه چی د«داعش» شورشیان دی بايد د موصل  د ښار کنترول پخپل لاس  کی ونیسی ؟*  ایا دعراقی لوړپوړی قوما ند انا نو ته دهغوی غربی نظامی مشاورین هدایت  ورکړی وه چی تاسی په شخړه کی مداخله مه کوی؟ اود«داعش» د تروریستا نومخه مه نیسی  ؟ یعنی هغوی سره پریکړه کړی وه چی دهغوی سره مرسته وکړی ؟  اویا داچی د موصل سقوط د «داعش» دشورشیانو په لاس کی دامریکی د(سی آی ای) داجندا یوه ماده وه چی باید موصل د«داعش» دشورشیانو په تصرف کی ولویږی ؟




که نه ایا ددی احتمال وړل کیدل چی دعراق نظامیان  اویا دیوځ قوماندانان پریښی وای چی د «داعش» شورشیا ن  موصل ونیسی بی  له دی  چی دولتی نظا میا نو  یوه ډزه یا یوه مرمی هم  ګذار کړی  داپخپله یوه غټ سوال دی چی دهغه ځواب لا نه دی معلوم ؟

**شیعه مذهب جنرال مهدی صبا ال ګاراوی (Mehdi Sabih  al- Gharawi)  په موصل کی ددنظامی فرقی سرقوماندان اومشر  پخپله  له ښاره ووتل اوپه اصطلاح**

**سره ترک وظیفه وکړ .** جنرال« ال ګهاواری » دامریکی دمتحده ایالاتو د موظیفینو سره په موصل کی داسی سره نژدی وه لکه لاس او دستکش . هغه د موصل د ښا ر قوماندانیت دسپتمبر په میاشت کال (۲۰۱۱) کی د امریکی د لوړپوړی کول سکاټ مککین (Col Scott McKean) نظامی مشاور په هد ا یت سره ونیول یعنی همدغه دندی ته وګمارل شو ، نو په همدی وجهی سره هغه ته هدایت ورکړی شوی وه چی خپل تر لاس لاندی نظامی قوتونه ته امر وکړی چی د«داعش» دشورشیان په مخ کی خنډ نشی ؟

تاسی دپورتنی نقشه یا د(تصویر) په چپه اړخ کی دمتحده ایالاتو د پوځ ګوری چی دهغه مشر ډګروال سکاټ مکین دي اودهمدی نقشی ښی خواته د څلورمی فرقی یا دبریګاردانو قوماندانیت پروت دي یعنی هغه جزوتام کوم چی جنرال مهدی ته دسپتمبر په څلورم کال (۲۰۱۱) کی وروسته دیوی محفل د برګذاری څخه د ښا ر واک ورکول کیږی .

دامریکی د متحده ایالاتو موظفو کسانو باید چی په نوموړی مورد کی مداخله کړی وای اوداځکه چی هغوی ته له پا سه همدغه هدایت ورکړ شوی وه او یا دا پخپله د امریکی دمتحده ایالاتو د(سی آی ای) د مخکینی سنجول شوی پلان داجندا یوه اصلی هد ف همدا وه چی با ید دموصل د ښار کنترول د «داعش» دشورشیا نو په لاس کی ولویږی اود پروګرام سره سم هغوی داسلامی خلافت دپلی کولو د پاره دخپل مخکینی طرحی سر سم پکار ولویږی .

مهم مطلب چی باید دلته وربادی یو څه تم شو هغه دادی : که چیری دامریکی دمتحده ایالاتو تر حما یی لاندی د «داعش» شورشیان دخپل پروګرام سره سم د عراق په نیول شوی ساحو او برخو کی قدرت ترلاسه کړی نو هغوی به د اسلامی خلافت د پروګرامونو دپلی کولو په لټه کی به ولویږی چی د هغه په اړخ سره د بغداد دولت نسکوریدو زمینه هم برابریږی اوپه عین زمان کی د کوردستا ن په شمال کی د پشمیرګا (Peshmerga) په نوم شورشیان کوم چی د اسرایل د دولت له خوا ملاتړ کیږی ددی توان لاسته راوړی چی د اربیل(Arbil) او کیرکوک (Kirkuk) ښارونو کنترول تر لاسه کړی اود امریکی دمتحده ایالاتو د(سی آی ای ) مخکینی پلان تحقق ومومی .(**نقشی ته دی مراجعه وشی ).**

***دتولبندی (پایلی) څرګندونی*** : مخکی دیرغل په کال (۲۰۰۳) په عراق کی دالقاعدی شورشیان موجود نه وه یا نه ترسترګو کیدل ، اما یو څه زیات وکم شمیر دالقاعدی پوری تړلی شورشیان تر هغه چی دامریکی متحده ایالات - ناتو اواسرایل تر حما یی لاندی شورشیان دمارچ په میاشت برید وکړ ترسترګو کیدل .

د«داعش» یا دعراق – سوریی داسلامی دولت نهاد یا دلی تپلی یو آزاد نهاد نه وه

بلکه دغه ډلی ټپلی د امریکی د (سی آی ای ) په نوښت او کار سره مینځ ته راغی او ددغه نوبنیاد سازمان یا چپاو سره (سی آی ای ) هراړخیز کمک ( مالی ، نظامی تجهیزات ، تریننګ او ...) کوی او لا تر اوسه دهمدغی جاسوسی سازمان تر حمایی اوملاتړ لاندی فعالیت کوی .

په نهایت کی دغه دنورالمالکی ددولت مخالف ډلی «داعش» غوښتنه اوهدف کوم چی دامریکی اودناتو پواسطه سره مهندیسی شوی عراق دیو ملی دولت په بڼه دی پاتی نشی اوهرو مرو باید تخریب او بی ثباتی شی . اودا خکه چی دامریکی د متحده ایالاتو د (سی آی اي) دعملیاتی پلان داجندا اودهغه دمهندسی یوه ماده منل شوی دي چی عراق باید تروریستی ډلو ټپلو ته منتقل شی . دامریکی د متحده ایالاتو او دهغه دمتحدینو داوږدی مودی راهیسی ستراتیژیکی پلان اوطرح دا وه چی عراق باید دجدایی غوښتونکو په هیله او غوښتونوسره ټوټی ټوټی یا تجزیه شی .

په عراق کی د «داعش» دخلافت پروژه دیو اسلامی سنی مذهب دولت په بڼه مینځ ته راتلل دعراق دسنی مذهبو خلکو پروژه نه دی اوخصوصاً دهغوعراقی سنی مذهبو چی په تاریخی لحاظ هغوی دیو سکولار دولت سره عادت کړی یا د هغه د قوانینو اومقرراتو سره بلد تیا لری ، د خلافت پروژه دامریکی دمتحده ایالاتو نقشه او ډیزاین دي د «داعش» دشورشیانو پرمختګ دسنی مذهبو خلکو د تمایل اړول او یا راجلبول په مستقیم بڼی سره دنورالمالکی ددولت پرضد اومخالفت دی .

له دی نه چی عراق باید په ټوټو یا په سکتاریستی قومی برخو بدل یا تجزیه شی داهغه پلان اوطرح دی کوم چی پنتاګون دهغه نقشه لس کاله دمخکی ویستلی وه .

**دخلافت تشکل یاراایجادول په مینځنی ختیځ کی دپراخ مخالفتونو د پیل ممکن لمړنی ګام اووسی** اودا مو باید په خاطر کی اووسی چی ایران دی ته اړ کیږی چی دنورالملکی دولت سره خپل مرستی پیل کړی اوداځکه چی دغه لوبه دامریکی تر سرمشریزی لاندی پلن شوی چی ایران با ید د «داعش» دهجوم له ډاره بغل ته ځان واړوی اوداپخبله دامریکی په لاس دایران تشویقول دی چی د عراق په شخړه کی ولویږی .

دعراق له سره تقسیمول په پراخه بڼی سره دیوګوسلاویا دفدریشن دمودل په څیر به وی کوم چی هغه هیواد په اوه مستقلو برخو سره وویشل شو( سربیا ، کوروات، بوسنیا –هیرزیګوبونیا، مکدونیا «FYRM»، سلوبونیا ، مونتینیګرو او کوسوبا) .

د مهدی داریوس نظری مرویا ( Mahdi Darius Nazemroaya) دوړاندیز په نظر کی نیول سره دعراق له سره ویشل په دری بیل هیوادونو وی کوم چی دمینځنی ختیځ په نوی ترسیم کړ شوی نقشه کی په نښه شوی دی .

دغه لاندنی نقشه د کولونیل رالف پیتر (Colonel Ralph Peter) پواسطه سره

ترسیم شوی دی .




اوپه کال (۲۰۰۶) کی دنظامی قوتونو په مجله کی چاپ شوی دی ، پیټر(Peter) پخپله دامریکی دملی جنګ داکادمی یو متقاعد افسر دی.

ګرچه دغه نقشه په رسمی بنی سره دپنتاګون ددوکترین انعکاس نه دی بلکه دغه نقشه دناتو دلوړپوړو نظامی افسرانو دروزلو اودهغه دلا بلدتیا دپاره ترسیم شوی.

( دنوی مینځنی ختیځ پروژی ترعنوان لاندی دمینځنی ختیځ له سره ترسیم کړ شوی نقشی ته دی مراجعه وشی )

په درناوی